د تصوف ځیني اصطلاحاتو شننه

دویمه برخه : **څېړونکی: پوهنوال الکوزی تایب**

وروسته بیا په ستایل شویو حمیده او غوره اخلاقو او تهذیب د هغه پسولل دي.

خو دغه نفسي بولون ۀسانه نه تر لاسه کېږي، بلکې ځینې وخت د صوفي ریاضیت د شریعت له پلوه یو منکر امر بدلېږي، چې سالک د ګټې پرځای زیان مومي.

په تیره بیا که چیرې سالک د شهرت لپاره او ددې لپاره چې خلک وو ایې، چې صالح او نیکو کار دی او په ظاهره ځان دیانت لرونکې معرفي کوي.نه د الله ج د رضا تر لاس کولو لپاره نو دایې په زیان ده.

وبه ګورو ، د قطاع الطریقو بدو درغجنو خلکو په هکله چې مال ټولولو ، جاه او ثروت په خاطر ساده خلک دوکه کوي او د هغوی له سادګۍ څخه غلطه ګټه پورته کوي. قضاوت او حکم څه دی؟

دا هغه څه دي چې عادي څوک او هغه چې د دیانت او هغه چې د دیانت ادعا یې ظاهرې نه وي دا سې کار نه کوي.

۲ـ کشف او کرامت:

کشف او کرامات د تصوف په درشل کې د سلوک پایلي او نتیجې دي د حوارقو په شان هغه عادات دي، چې په عمل کې له عقل څخه بهر او د بشري توان له امکان څخه او چته ښکاري، خو که داسي عمل د پیغمبر له خوا د مقابل لوري د خبرولو په خاطر ښکاره شي معجزه ورته ویل کېږي. لکه: د مړي ژوندي کول چې دا د حضرت عیس (ُ) معجزه وه له لکړې څخه مار جوړل چې د حضرت موسې (ُ) معجزه وه او قران کالالریالم چې د الله (ﺃ) لالله لالالوري جلیل القدر پیغمبر حضرت محمد (Õ) ته معجزه وګرځاوه.

که چېري همدا سي یو عمل د کوم نیک او تقوا لرونکي چا له لخوا پرته د نبوت له ادعا ښکاره شي تعجیز په توګه ښکار شي کشف او کرامات بلل کېږي.

خو که داسي عمل د یو داسي چا له خوا ښکاره شي چې نا مسلمان وي یا فاسق مسلمان وي نو د شیطان دوکه ، خدعه او استدراج بلل کېږي.

د معجزې او کراماتو تر منځ توپیر دادی چې معجزه د نبي د صدق نښه ده دهغه لپاره د نبوت په دعوه کې او نبي دنده لري، چې هغه اعلان او ښکاره کړي تر څو د خلکو په وړاندې یو دلیل او حجت æ í ¡ خو د کراماتو خاوند هڅه کوي چې کرامات پټ وساتي خو که د ګمرهانو د قانع کولو لپاره اړ شي بیا ورته اجازه شته چې کرامات ښکاره کړي.

۳ـ کشف:

د زړه له سترګو څخه د حجاب پرده پورته کېدل دي، تر څو په هغو اسرارو وپوهېږو کوم چې الله (ﺃ) د هغو د کشف او ښکاره کېدو اراده وکړه لکه، چې غزالي خپل (المنقد) کتاب کې فرمایې: په همدغه یو ازې توب کې ماته داسي چارې ښکاره شوې چې شمېر او شرح یې امکان نه لري او بیا وایې دا طریقت له لومړیو مکاشفات او مشاهدات پیل شول حتی، چې سالکین په ویښتیا کې ملایکه او د انبیا ارواح ویني او له هغو څخه غږ واوري او له هغو څخه ګټې تر لاسه کړي. نو کشف د پردې تر شاه اسرار باندې پوهېدل او د غیبي معنی څخه خبرتیا تر لاسه کول دي او کرامت د خارق العاده عمل رښتیا کول دي لکه د خدای (ﺃ) په حضور کې د اولیاوو د دوعا قبلېدل د یو ناروغ روغتیا موندل او د یو غم لرې کېدل یا د برکت او رزق په برخه کېدل او نور او همدا رنګه د خدای (ﺃ) د قدرت لویوالي په وړاندې د خوارقو قبلېدل دي لکه د الله (ﺃ) په اجازه په لږ شېبه کې له سبا ښار څخه د بلقیس د تخت راوړل آ í .

۴ـ نور:

نور په ډېرو معنې ګانو راغلی دی. ظاهري معنی یې ظلمت او تیارې سرچپه یعني رڼا ده، خو د تصوف له نظره هغه رڼا ده ،چې زړه باندې خورېږي سالک پوه ښاسته رڼا ، را کښونکې عطر او خوندور احساس په معنوي توګه پخپل زړه کېویني او احساسوي یې چې په تعریف او وصف کې نشي راتلا ï .

په قرا کریم کې په بېلابېلو معنی ګانو سره راغلی دی.

۱ـ د الله (ﺃ) له الحسنی نومونو څخه یو نوم دی د آیات ژباړه: خدای (ﺃ) د آسمانونو او ځمکې نور دی.

۲ـ د قران کریم او اسماني کتابونو نومونو څخه یو نوم دی.

۳ـ د ایمان په معنی چې د کفر په مقابل کې ده.

۴ـ نور د سترګو د لید او بینایې په معنې ده .

۵ـ نور د علم په معنی هم راغلی ده دا ځکه چې په هغه سره خلک د نیک او بدو تر منځ توپیر کولای شي. نو ځکه ویل کیږي، چې علم نور دی او جهل تیاره ده.

۵- قلب:

قلب هغه کلمه ده، چې که چیرې د صوفیانه ادبیاتو او د تصوف له مجلسونو څخه لرې شي نو تصوف ته هیڅ هم نه پاته کېږي.

پاتې لري په راتلونکي ګڼه کې

فکري ځواک مو په مثبت لوري وګاروئ!

مثبت فکر کول په دې مانا چې هرڅه ته دیوې هیله مندۍ له اړخه کتل دي او مثبت فکر موږ سره مرسته کوي، څو خپل وړتیاوې او استعدادونه پکار واچو او خپل ټاکلي هدف ته ورسېږو. دمثبت فکر څخه موږ له ستونزو سره دمخ کیدو پرمهال خپل احساسات مهار کولی شو او موږ ته دخوښۍ او خوشحالۍ احساس راکولی شي.

مثبت فکر کول دانسان دپلټنې هغه حس ګڼلی شو، چې د ودې، غښتلتوب او دپرمختګ کړنې په انسانانو کې زیږوي، خو چې فکرونه مثبت لیدلوري ولري او که چیرته منفي تفکر په انسانانو کې رامنځته شي، کیدای شي، چې ډېرې وګړي له ستونزو سره مخ کړي، ځیني افغانان دمثبت فکر څخه منفي فکرو ته ډېر ارزښت ورکوي، چې یو لامل یې په هیواد کې دکرغېړنې جګړې اغیزې دي، چې په کوچنیتوب کې ورسره ولسونه روږدې شوي او کله چې په ځوانۍ پل ایښې، نو ورسره جوخت منفي کړنې هم وده کړي او له دې کړنو سره یې عادت اخیستي دي.

منفي فکرونه دانسان دپرمختګ خنډ ګرزي، بهتره ده، چې دمنفي فکر څخه مخنیوی وشي او مثبت فکر ته ارزښت قایل شي، که دیوکار کیدو امکان لس سلنه هم وي ، سړی باید ناراحته نشي او هڅې په دې پیل کړي، چې دغه کار سل په سلو کې کیدونکې ده.

نوکه چیرته هغه کار هم ونشي، د مثبتو انګیرنو په اساس یو هدف لپاره انسان سل نور هدفونه ټاکلي شي او ځان سره به ډېر هدفونه ولري او خامخا به دیو هدف لاسته راوړلو پایله ویني.

دمنفي فکرونو پایلې ناوړې دي، ځکه انسان ته ډول ډول تشویشونه پیدا کوي او د خوځښت مخنیوی یې کوي، چې نه دا یو ډول عمل؛ بلکې له دې سره روحي او فکري ناورغۍ دپیدا کیدو سبب ګرزي، تل به دانسان د ژوند چارې ګواښي.

انسان ته پکار ده، چې د ژوند په هراړخیزو چارو کې هڅې پیل کړي، څو خپل اهداف وټاکي، د ژوند له ستونزو سره مبارزه کول دبریالیتوبونو لوړو پوړیو ته رسیدل دي او انسان ته هیلې او امیدونه وربښي.

د ژوندانه په چارو کې زیار ایستل انسان له ګړنګونو څخه ژغوري اوپه دې لټه کې وي، څو دښه ژوند په جوړولو له نورو خلکو مخکښ وواسي.

انسان خپلې راتلونکي هیلې ته خوښ وواسي¡ هیلې دې خرګندې کړي او په عملي ډول یې وآزمایي، نه داچې ووایي، خدای مهربان دی. بلکل الله (ﺃ) مهربان ذات دی، خو چې موږ له خپل ځایه ونه لټو، آیا چیرته مو لیدلي، چې تیارې ډوډۍ ځوړندې وي. الله ویلي، چې حرکت وکړه، په کار کې دې زه برکت اچوم.

دنړۍ پرمختګونه دانسان دپوهې او عقل په واسطه ترسره شوي، نو موږ باید چې خپل پوهه او استعدادونه پکار واچو، څو هیوادوالو ته نوښتونه په ډاګه او هغوی بیا وکولای شي، ورڅخه ګټه واخلي.

دهرڅه په اختراع او جوړولو کې فکر ته اړتیا شته، چې څنګه یو شي، جوړ کړو، که پیل یې ګران دی، نو لاسته راوړنې له ځانه لري.

په پښتو کې یو متل دی، چې وایي: دمړ زمري څخه ګرځنده کیدړه هم ښه ده. دمتل مفهوم پدې مانا چې هرانسان ته خدای (ﺃ) روغ بدن او صورت ورکړې، خو داچې ددې ستر نعمت څخه په سم ډول کار نشي اخیستی ، دا ددې بیغوري ده، نو دداسې انسان له شتون څخه دصحرا کاڼې غوره دي.

خو په آخرت کې خدای(ﺃ) له انسان څخه به هم وپوښتي، چې ما تاته دومره ځواکمنتیا او قدرت درکړی ؤ، نو هغه دې ولې په کار او دخلکو دچوپړ لپاره ونه کارول . نو بهتره داده، چې فکرونه مو په منظم ډول په رغنیزو، جوړنیزو او پوهنیزو برخو کې پکار واچول شي، څو دمنفي لید لورو څخه ډډه وشي او دبدبختیې زانګو نور په خپلو لاسو ونه زنګوو، بس چې دا څلویښت کاله پرموږ بهرنیو او ګاونډیو هیوادونو ډول ډول نخرې وکړې، چې لاملونه یې زموږ په منځ کې داتحاد نشتون ؤ، ددې لپاره چې تل زموږ په میشته قومونو کې یوالي وي، نو اړینه ده، چې پریوبل داعتماد درلودومزې ټینګې کړو، یو بل سره داعتمادپه فضاء کې د ورورګلوي ترسیورې لاندې ژوند وکړو.

څو خپل فکرونه منسجم او دغلطو فکرو څخه ډډه وکړو. هلته بیا زموږ دیوالي سمبول خلکوته څرګندیږي، چې نور دچا خبرو پسې ونه ګرزو او نه هم موږ څوک غلطو لارو ته وهڅوي.

لازمه یې ګڼو، چې اصلاح او سمون له ځانه پیل اوبیا دغه لړۍ نورو ته وغځول شي، څو ټول ولسونه دفکرونو په جوړولو کې ګډه مبارزه او مثبت بدلون راشي او دې سره به موږ دبریا مزلې وهلي وي.

لیکنه : شیرمحمدامیني ستانکزی

د مطالعې اهمیت د اسلام له نظره

لکه څرنګه چې الله (ﺃ) د اقرا په سوره کې په ویلو یې تاکید کړې او آجبرئیل امین په واسطه یې را نازل کړ¡ چې حضرت محمد (Õ) ته حکم وکړي.

ژباړه: (ووایه د هغه خدای په نامه چې نړۍ را پیدا کړۀ او انسان یې له یوې ټوټې وینې څخه را پیدا کړ¡ ووایه د هغه ذات په نامه چې تر ټولو لوی ذات دی هغه ذات چې د قلم په واسطه یې تاته تعلیم درکړل) د ټولې نړۍ تاریخ پرته له کتابونو خالي æ í . د نړۍ ټول کلتور او عنعنات له کتاب سره پیلېږي او له کتابونو سره پرمختګ کوي په دې سره د اسلام مقدس دین د کتابونو څخه یې ډېرې ګټې تر لاسه کړې¡ ځکه چې رسول الله (Õ) د الله (ﺃ) له لورې یې په ویلو پیل وکړ او په همدغې مقدس فرهنګ کې الله (ﺃ) په قلم باندې سوګند یاد کړه او د اخیرې رالېږل شوی پیغمبر معجزه یې هم کتاب رالېږلی.

د مطالعې د ارزښت په اړه باید دا وویل شي چې د نړۍ د پرمختګ یوا ځنۍ لار مطالعه ده او د نړۍ تاریخ چې تر اوسه پورې موږ ته په میراث پاتې شوی او داسې ځلانده ده، نو د کتابونو له امله ده¡ د مطالعې ارزښت په اسلام کې ډېر لوړ دی د تاریخ په اوږدو کې علماو د علم او ادب او مطالعې په اړه ډېر تاکید کړی د علماو له نظره مطالعه کول یانې ښه پوهېدل ، ښه غږېدل او ښه عمل کولو ته وایې مطالعه د علم او ادب ته د رسېدو یوا ځنۍ لار آ کتابونو لوستل د í .

ځوانانو او د ټولنې د هر قشرلپاره ډېر مهم او اړین دی او د ذهنیت په جوړولو او پیاوړتیا کې خورا زیات اهمیت لري. کتاب لوستل اعتماد په نفس زیاتوي او انسان دې ته آماده کوي چې د ټولنې د پرمختګ لپاره ښه کارونه وکړي او ځان د یو مکمل انسان په توګه ومني. د هغه انسان په توګه چې کولای شي کار وکړي او د ځان او ټولنې لپاره د خدمت جوګه شي. په بشري ټولنه کې څنګه چې کتاب او مطالعه زموږ د ژوند په جوړولو کې رول لري همدا رنګه موږ هم دا مسوولیت لرو¡ چې د کتاب په ساتنه کې رغنده رول ولرو ځکه چې هغه مهم مواد او علمي ذخیرې چې په کتابونو کې نغښتي دي بې ځایه او زیانمن نشي.

ځکه چې زموږ د علماوو علمي او فکري زېرمې دي او هېره دې نه وي¡ چې د مطالعې لپاره باید ځانګړې وخت وټاکو چې هم مو ذهن آرامه وي او هم د مطالعې کولو څخه خوند او هم ګټه ترې واخلو . ددې متن په اخیري کرښو کې ځوانانو ته دا خطاب کوم¡ چې خپل قیمتي وخت چې د سره زر په شان دی په بې ځایو کارونو مه تیروÆ او دا مو خپل مسوولیت وګڼئ، چې د مطالعې د فرهنګ په رواجولو سره رغنده رول ولرÆ او مطالعه مو د خپل ورځنۍ ژوند یوه برخه وګرځوÆ او په ګټه به یې هغه وخت پوه شئ، چې مطالعه مو کړې وي.

لیکنه : بصیره شجاع ستانکزی

حفظ میراث های فرهنگی هویت ملی یک کشور است

میراث های فرهنگی اعم از ملموس وغیر ملموس هویت ملی را تشکیل می دهد در جهان ملتی زنده وجاویدان محسوب خواهند گردید که شواهد واسناد میراث فرهنگی شانرا حفظ کرده باشند بدون شناخت وهویت فرهنگ یک کشور شناختن آن کشور ناممکن است.

بنا برهمین ملحوظ کشورهای پیشرفته خود را متعهد به حفظ ورشد میراث فرهنگی خود می دانند راه های مختلف برای رشد وحفظ میراث های فرهنگی وجود دارد که کشور های مختلف از هرکدام آنها استفاده می کنند استفاده ازاین راه ها برای کشورها امکان آنرا مهیا ساخته است تا مالک میراث فرهنگی شان باشند ویک عامل عمده حفظ ورشد میراث فرهنگی عبارت از عشق وعلاقه باشنده گان یک ملت به هویت ملی شان است واین علاقه مندی را از یک نسل به نسل بعدی انتقال میدهد در پهلوی قوانین ومقررات توسط نخبگاă وچهره های فرهنگ پرور مطرح وحکومت های متضمن اجرای آنها است، حفظ ورشد میراث فرهنگی زمانی میتواند موثر وپایدار باشد که مورد حمایت ملت قرار گرفته باشد بدون آن امکان وجود نخواهد داشت که در هر محل آبدات تاریخی مناطق باستانی وآثارتاریخی صرف با وسایل وامکانات دولتی حفظ گردد بلکه در حصه حفظ ونگهداری داشته های فرهنگی تمام اقشار جامعه رسالت ومسولیت ایمانی دارند .

رهبری وکارمندان ریاست اطلاعات وفرهنگ منحیث خدمت گاران مردم خویش از تمام باشنده گان شریف ونجیب لوگر احترامانه تقاضا مینماید که وجیبه میهنی خویش را ادا سازند ما را در تمام مسایل فرهنگی همکاری همه جانبه نمایند تا باشد داشته های فرهنگی در این سرمایه پرارزش فرهنگی از این بیشتر متضرر نشود در آخر یک بار دیگر از تمام مردم شریف وفرهنگ دوست ولایت لوگر اظهار سپاس وقدردانی کرده واز بارگاه خداوند منان استدعا مینمایم که موفقیت های هرچه بیشتر را در تمام عرصه های زنده گی داشته ودر فضای صلح آرامش امرار حیات نمائید .

مدیریت موزیم

بقیه صفحه چهارم؛ فکرجوان درراستای تعلیم وورزش درحال حاضر بیش از65 درصد جمعیت کشور را جوانان تشکیل میدهد ، درشرایط کنونی که جنگ های استخباراتی بیگانگان بالای ما تحمیل شده است وهر روز ده ها قربانی ازمردم مظلوم ورنجدیده ما میگیرد ، سرنوشت آینده ما دردست جوانان رقم میخورد واین مسئولیت عمده جوانان است که با فکرجوان ونیروی که دارند تلاش وابتکارنمایند وبه دوراز موضوعات تعصبی قومی، مذهبی وزبانی به آینده شان بیندیشند ودرعمل ازطریق کسب علم ودانش،ورزش وده ها موارد دیگرمصدرخدمت به خود وکشورشان گردند. دراین اواخرقسمیکه به همه هویدا است که بیشترجوانان به طرف ورزش رو آورده اند باالخصوص به بازی کرکت، همان گونه که ورزش فواید وافتخارات زیادی را برای جوانان وکشورشان رقم میزند ، بدون برنامه منظم وافراط دراین عرصه باربارمانع سدراه تعلیم وتحصیل آنان میگردد. درولایت لوگردرکناردیگررشته های ورزشی بیش ازهشده کلب های رسمی کرکت وجود دارد اما نبود میدان های معیاری ونداشتن برنامه منظم بازیکنان ومسئولین باعث این گردیده است که جوانان دراین عرصه رشد چشمگیرنه نمایند وتاحدی افراط آنها ، مانع آموختن دروس آنها گردیده است. اینکه درکنارتعلیم وتربیه وورزش نیزضروری میباشداما برهرجوان ما لازمی است که درپیشبرد هردو امور برنامه منظم را روی دست گیرد.

نویسنده: محمدزاهد(سلطانی)

ۀز هفته تغذی با شیرمادر در لوگر... مولوی امیر جان یک تن از علمای دینی لوگر از دیدگاه دین مقدس اسلام پیرامون تغذی کودکان با شیرمادر معلومات داد و گفت طبق آیات مبارک کلام الله مجید باید تا سن دو سالگی برای کودک شیر داده شود .داکتر فدامحمد مهمند آمر تغذی ریاست صحت عامه لوگر گفت که در بخش جلوگیری از سوء تغذی کودکان در هر یک از چهل و چهار مرکز صحی در مرکز و ولسوالی های لوگر یک تن مشوره دهنده برای مادران شیرده استخدام شده و نیز برای دوصد و سی و یک داکتر زن و مرد ، قابله ها و نرس ها کارگاه های رهنمودی در خصوص شیردهی راه اندازی شده است.

محمدموسی عدیل

لس شیان زړونه وژني!

له یوه عالم نه پوښتنه وشوه: دعاوې کوو خو نه قبلیږي؟ هغه ورته وویل: زړونه مړه دي، بیا پوښتنه وشوه: څه شی زړه وژني؟ ده ورته وویل: دا لس شیان:

۱. الله (ﺃ) مو پیژندلي؛ خو د هغه حق مو نه دی ادا کړئ .

۲. د الله (ﺃ) کتاب مو لوستلي° خو عمل نه پرې کوئ .

۳. د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د میني دعوه کوئ° خو په سنتو یې عمل نه کوئ .

۴. د شیطان د دښمني دعوه کوئ° خو په کړنو کې ورسره موافق یئ .

۵. وایئ له جنت سره مینه لرو° خو د جنت له پاره ښه عمل نه کوئ .

۶. وایئ له جهنم نه ویرېږو° خو هغه کارونه کوئ¡ چې هغه سړی جهنم ته رسوي .

۷. تاسو نارې وهئ چې مرګ حق دی° خو مرګ ته تیاري نه کوئ .

۸. د خپلو ورونو په عیبونه اخته یئ¡ خپل عیبونه مو هېر کړي دي .

۹. د الله (ﺃ) نعمتونه خورئ° خو د هغو حق نه ادا کوئ .

۱۰. خپل مړي خښوئ° خو عبرت نه اخلئ .

سرچینه: دنړۍ له جال څخه